مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حکیم روان ٢٠٢٠/٠٣/٠٧

# افغانی ټولنه او د ښځو ضد تفکر

په وروسته پاتي دوديزو او قبيلوي ټولنو کي د دې ټولنو د ټولنيزو مناسباتو سره متناسب کلتور هم دوديز او قبيلوي وي.
په ټولو وروسته پاتي ټولنو کي په ځانګړې توګه په اسلامی ټولنو کي د پلارواکی یا پلارسالاری غیر عادلانه ټولنيز اړیکی حاکم دي . په اسلامی ټولنو کي حتی د اسلام د مقدس دين د ارشاداتو پر خلاف د ښځو پر ضد روحيې د شرم او حيا کرښې له منځه وړي دي . مثلا په قرآن کي (خلق الانسان) ويل شوي دي د انسان کلمه پر ښځه او نر دواړو يو ډول اطلاق کيږي . مانا دا چي د اسلام له نظره ښځه او نرله حقوقی نظره سره برابر دی . بيا قرآن وايي چي علم پر مسلمان فرض دی . ښځي او سړي دواړو ته مسلمان ويل کيږي .قرآن نه دی ويلی چي علم پر سړي فرض دی . بدمرغی داده چي مسلمانانو اصلی اسلام هېر کړی او د ربښتيني اسلام پر ځای يې د خپلو خواهشاتو سره د مطابق اسلام پيروي پيل کړيده . دا چي قرآن وايي : ( لا اکراه فی الدين ) ياني په دين کي زور نه شته . خو په عمل کي د نړئ خلک يواځي د زور او خشونت شاهدان دي . مجاهدين-طالبان –داعشيان له انسانانو په الله اکبر ويلو سره سرونه غوڅوي او د قرآن ددي مبارک آيت پر خلاف وايي چي اسلام د شمشېر په زور راغلی دی . د تأمل وړ خبره داده چي يواځي مسلمانان سرونه غوڅوی او انتحاري بريدونه کوي ! د لا اکراه فی الدين سره ضديت او دښمنی يواځي طالب ، مجاهد او داعش کوي . مسلمانان قرآن کريم ته د عقل په سترګو نه ګوري ، له قرآن څخه هغه څه خوښوي او هغه څه انتخابوي چي د دوی د وروسته پاتي استبدادي تفکر سره برابر وي . مثلا په قرآن کي به د لاس پرې کول او سنګسار وي ، خو مونږ په قرآن کي د ښځي مقام ، صله رحمی ، تعقل ، پوهه او تدبير ، عدل او انصاف او اصلاح کول چي قرآن د همدې ارزښتونو د پاره نازل شوی دی بيا نه وينو......؟ په قرآن کي د نورو پيغامبرانو کيسي ولی راغلی دي ؟ د دې د پاره چي انسان له تېر نه عبرت واخلي . د حضرت عيسی (ع) په وخت کي خلکو غوښتل يوه ښځه سنګسار کړي . عيسی (ص) ورته را مخکي شو او پر ټولو يي غږ وکړ چي پر دې ښځه به لومړی ګذار هغه څوک کوي چي هيڅکله يي ګناه نه وی کړي . ټول پوه شول چي هيڅوک بی ګناه نه شته او د خلکو وحشت يي مهار کړ . خو په خواشينی سره مونږ د طالبانو له خوا د ښځو د سلګونو سنګسارونو او سرونو پرې کولو او په ملای عام کي د ښځو د شلاق او درو د وهلو شاهدان يو .
دا چي د افغانستان مظلومی ښځي د طالبانو له راتګه وېره لري او حتی نړيوال له هره حيثه په ځانګړې توګه د ښځو په اړه طالبانو ته د مرګونی ګواښ په سترګه ګوری ، بې بنسټه نه ده .
د افغانی دود له امله ښځو ته ډېر درناوی کيږي . افغانان په خپل منځي شخړو کي يو بل سره وژنی ، خو د يو بل ښځي نه وژني .
طالبان نه يواځي د اسلام څخه غلط تعبير وړاندې کوي ، بلکي خپلو افغانی دودونو ته هم درناوی نه کوي او د ښځو پر ضد غير انسانی او غير اسلامی زور زياتی کوي .
طالب ښځي بې محرمه له کوره راوتلو ته نه پرېږدي . په کوټکو او کيبلونو يي وهی . طالب هيروي چي د طالب او مجاهد له برکته افغان ټولنه په مليونونو بی سرپرسته کونډې او يتيمان لري . آيا طالب واکمن دې کونډو او يتيمانو ته کور ته ډوډۍ ور وړي ده ؟ هغوی بايد مزدوری او خواری وکړي ، تر څو خپلو ماشومانو ته ډوډۍ ورووړي . طالب د خپلي واکمنی په مهال يوه وياله ، يو کاريز، يو سرک ، يو روغتون ، يو ښوونځي ، يو سرک ، يو پل ، يوه کارخانه ، بالاخره يو شی د نمونې په توګه نه جوړوي ، خو کونډې او يتيمان له کوره په راوتلو سره محکوموي . د غله لاس پرې کوي ، خو کار او د ډوډۍ پيدا کولو امکانات نه ورته برابروي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

طالب د قرآن څخه د خپل جهالت د خوښې شیان آخلی او نور هیروي . قصاص مني ، خو هیروي چې حضرت پیغامبر (ص) په خپله آخرینه وینا کې د عرفات پر غونډیی مسلمانانو ته په خطاب کې وویل چې انتقام مه آخلی او ښځې ته پر انتقام ترجیح ورکړئ او د ښځو سره ښه وکړئ . خو طالب د اسلام د روح او روان خلاف ، اسلام په قصاص ، دلاسو په پرې کولو، په صحرایي محاکمو ، سنګسار او د ښځو سره په دښمنۍ کې خلاصه کوي .
د افغان ښځو سره د سړیو بد سلوک ، د پوزې او غوږونو پرې کول، وهل ټکول د سړی د وحشت ، بربریت او حیوانیت ثبوت دی ، چې اکثرا په نړیوالو مطبوعاتو کې انعکاس مومي او د افغان انسان انسانیت تر پوښتنې لاندې راولي . دا سړی دی چې د افغانی ټولنې نړیوال هویت ته زیان رسوي . د اسلامه بی خبره او بدمرغه ملا وایي چې ښځې څکه باید له کوره راونه وځی چې سړي تحریک کیږي . د ناپوهه ، جاهل، ړانده او ګوډ ملا نه د تعقل او سالم قضاوت توقع ، د هندو له کوره د قرآن د راوتو توقع ده . کله چې سړی لکه حیوان خپل غرایز کنترول کولای نه شي ، نو لازمه ده چې سړی په کور کینې نه ښځه . د سړي د کمزورتیا ، حیوانیت او وحشت په وجه ولې بې ګناه ښځې محرومیت وګالي؟
طالب د اسلام تر نامه لاندې په جومات کې په نمونځ کوونکو انتحاری برید کوي . روشنفکر د آزادی او دموکراسی تر نوم لاندې د یوې څوانې میرمنې مقرری نه شی زغملای او د اسلامی ارزښتونو ، پښتو او پښتونولی پر خلاف د حکومت او خپلې افغانی خور په ادرس بدې ردې آن له کنځلو هم ډډه نه کوي . ځان غوښتونکی احمقان ښځې په بدلمنۍ تورنوي . فکر نه کوي چې ښځه د نارینه مور ، خور او لور ده . پریږده چې د اوږدو پیړیو له محرومیت ، ګواښونو ، توهین او تحقیر وروسته په سیاسی ، اقتصادی او ټولنیزو چارو کې خپلې انسانی وړتیاوې ثابتې کړي . د ښځې ضد شرموونکی طالبی – جهادی سړی سالاره تفکرزمونږ د ټولنې فضا او قضاء په بګنوونکو تیارو پوښلې ده .
زمونږ په ټولنه کې ښځه د سړي د ړانده قضاوت په وجه ، بې له ګناه او بې له ځانګړی اتهامه، اسیره ده . افغانان بې له هیڅ دلیله په خپلو ښځو اعتبار نه لري . په کورونو کې یې بندوي او خپلې ښځې په اسارت کې خوندي ویني . زما له نظره د ښځو له پاره له درد او کړاوه ډک ژوند ، د سړي له پاره د شرم ځای دي . جاهل سړی د ښځو آزادي او برابري، پوهه او علمیت ، په ټولنه کې د وړ مقام تر لاسه کول د ښځو د عزت او عفت بربادي بولي . په دې توګه نیمه ټولنه اسیره او د کور په دیوالونو کې د سړي سالاره ړانده تفکر له پایلې محصوره او بندي ده او په ټولنیز ژوند کې له ګډون څخه محرومه ده . دا محرومیت مونږ ته د ټولنې د نیم وجود د فلج په بیه تمامیږي . آیا نیم فلج وجود د یوه سالم او پوره فعال وجود نقش لوبولای شی ؟ افغانی ښځې او سړي دا هیروي چې د افغانستان په تاریخ کې کوم سړي د میوندي ملالې رول لوبولای شو ؟ که نازو آنا او زرغونه آدې او نورې اتلی ښځې نه وای ، سړیو به میرویس خان ، احمدشاه او شېرشاه سوري ، پیر روښان ، خوشال ، آمان الله او پاچاخان له کومه کاوه .
د افغانی ټولنې په څېر ټولنو کې حتی ښځې خپل اسارت په سړي سالارانه ګوډ منطق توجیه کوي او خپل اسارت خپل برخلیک بولي ، مرئیتوب خپله ازلی برخه بولي او ځان ته د انسان په ارزش قایلې نه دي . دوامداره محرومیت د سړي سالارۍ انسانی ضد تفکر، د ښځې ذهنیت مریې کړی دی . له دې مرئیتوبه د خلاصون له پاره لازمه ده چې افغان ښځې د نړۍ د ښځو د آزادي غوښتونکو او عدالت پسنده غورځنګونو له تجربو زده کړه وکړي او د مدرنو ټولنو د ښځو په څېر خپل حقوقی شعور لوړ کړي . په دې ټولنو کې ښځې خپل عزت په محرومیت او اسارت کې نه ، بلکې په آزادۍ ، حقوقي برابرۍ او د ژوند په ټولو ډګرونو کې په مساویانه سهم او مشارکت کې ویني .
افغانه ښځه باید خپل شخصیت ، مورنی حیثیت ، او انسانی هویت ته درناوی ولري او په ټولنه ، سیاست او اقتصاد کې خپل طبیعی مقام تثبیت کړي .
افغان ښځه باید یواځې د ټولنې د نفوس نیمایي نه بلکه د ټولنې د معنویت او شخصیت نیمایي ، د ټولنې د ارادې ، انتخاب ، تصمیم نیونې او واک نیمایي هم شي . ښځه باید د حکومت ، پارلمان ، عدلی او قضایي ارګانونو نیمایي پستونه ډک کړي . پریږده چې د تنګ نظرو سړي سالاره تفکر لرونکو، د حسودو او بې سودو سړیو زړونه وچوي . نور زمونږ د معصومو او ملائکو په شان پاکو ښځو پر مخونو د تېزابو د شیندلو وخت تېر شوی دی . هغوی چې د افغان با عفته نجونو او میرمنو په مخونو یې تیزاب شیندل ، زمانې داسې کانې ورباندې وکړې او داسې تاریخ ته مختوری او شرمنده دي چې نن یې خپلې لوڼې په لندن او پاریس کې درسونه وایي او په انګریزی غږیږي او په سفارتخانو ګرځي.
جهادی او طالبی ناورین د افغان ښځو پر مخ څکه ښوونځي تړل چې ښوونځیو د ښځو سترګې خلاصولې . ښځو ته یې ددې وړتیا وربښله چې خپل محرومیت وپیژني او نور پرې نږدي چې د ښځې په نوم له انسانیت او انسانی حقوقو او آزادیو محرومې پاتې شي .
افغان ښځې باید د خپلو مبارزاتو په لړ کې د داسې قوانینو په جوړولو بریالی شي چې په سیاسی ، اقتصادی، ټولنیزو ، فرهنګی ، دینی او حقوقی ډګرونو کې د ښځو انسانی کرامت ، حقوق او آزادۍ ، فطری استعدادونه او وړتیاوې په رسمیت وپیژني . قوانین هم په یواځې توګه د ښځو آزادی او حقوق نشی عملی کولای ، ددې چارې له پاره باید د ټولنې په فرهنګي چاپېریال کې بدلون را منځته شي .د دې ترڅنګ چې افغان دولت باید په ښونځیو او د زده کړې په بنسټونو کې داسی درسي نصاب را منځته کړي چې د راتلونکی نسل په ذهنیت کې ناوړه دودونه ، بی حقوقي ، بی عدالتي او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نابرابري محکوم کړي ، ښځې باید د عمل ډګر ته راووځي . ځکه د ښځینه ارزښتونو ایجادول په خپله د ښځو کار دی ، سړي یواځې کولای شي د ښځو مرسته او د هغوی له ایجاد شوو ارزښتونو څخه ملاتړ او دفاع وکړي .
افغان ښځه له اسارت نه د خلاصون، ازادیو او انسانی حقوقو ته د رسیدو سخته لار په مخکې لري ، خو لومړی ګام په دې لور کې پر ځان د باور پیدا کول دي . انسان د ټولو بدلونونو ، پرمختګونو ، اختراعاتو او تمدنونو د ایجاد اصلی عنصر دی . ښځه تر سړي زیاتې وړتیاوې لري . د ښځې رول په ټولنیز ژوند کې د سړي سالاره بندیزونو د اوسپنیزو پردو تر شا هم د سړیو له روله مهم دی .
هیله ده چې د علومو او تکنالوژۍ ګړندی او بیساری پرمختګ به د سړیو انحصاري او سړي سالاره غیرعادلانه نقش ته د پای ټکی کیږدي ، خو د ښځو عدالت غوښتونکی غورځنګ به دا پروسه لا ګړندی کړي .
زه خپلو افغانو خویندو ته داد ورکوم چې ټول بصیرت لرونکی سړي د ښځو د انسانی او برحقه غوښتنو او مبارزاتو ملاتړ کوي .
په پای کې خپلو ویاړلو افغانی خویندو او میندو او د نړۍ ټولو ښځو ته د مارچ د اتمی د ښځو د نړیوال پیوستون د ورځې په ویاړ د خپلو تبریکیو صمیمانه مراتب وړاندې کوم .
ماتې دې وي د ښځې په خلاقو او هنرمندو لاسو کې د منځنیو پیړیو زنګ وهلی اتکړي !
ورک او رسوا دې وي د ښځو ضد او منحط سړي سالاره طالبی- جهادی تفکر !

**ویاړ دې وي پر افغان میرمنو !**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ